(د نظر خاوندانو او ليکوالانو تحليلونه)

1399، تله

# د امريکا انتخابات او پر افغانستان يې د پايلو اغېزې

US PRESIDENTIAL
2020
ELECTION



WAAMAA
Research&Results

واما د تحقیق او نتایجو اداره

واما د تحقیق او نتایجو اداره (WRRO) د ژمنو متخصصینو ټولنه ده، چې د غوره بدلون په لټه کې ده. موږ ژمن یو چې افغانان له ناوړه شرایطو څخه راوباسو.

زموږ ټولنه په اصل کې له څېړنو او اطلاع رسوني سره سر و کار لري. که څه هم چې څېړنه او تحلیل زموږ بنسټیز خدمات دي، خو تر څنګ یې خپلو مراجعینو ته سوداګریزې حل لارې او مشورې هم وړاندې کوو.

(WRRO) په تر ټولو غوره کیفیت او اخلاقي اصولو سمبال اداره ده. موږ د ژوند پرمختګ ته مصمم یو. موږ دغه راز ژمن یو چې په خپلو هڅو سره له بشري حقونو دفاع وکړو. موږ هیله من یو چې په ښه ډول سره عامه خدمات وړاندې کړو او د عامه پوهاوي له لارې د خلکو ژوند لمس کړو. موږ دغه راز هر وخت د بشري خدمتونو او ماموریتونو ترسره کولو ته تیار یو.

(WRRO) ټولنه د متخصصینو او په بېلابېلو برخو کې د تجربه لرونکو کسانو ټولنه ده. زموږ د ټولنې غړي او همکاران ټول د عالي لوړو زده کړو درلودونکي کسان دي او د ټولنې هر غړی په بېلابېلو برخو کې د فوق العاده تجربو درلودونکی دی.

واما اداره د کار له پیل سره سم په لنډه موده کې په دې وتوانېده، چې له نورو بنسټونو او شرکتونو سره ستراتېژیک او ارزښتمن مشارکت رامنځته کړي. موږ نورو مشهورو سازمانونو او ټولنو ته د حل لارو پیدا کولو خدمات پیل کړي دي. زموږ ټولنه، زموږ مهارتونه، ارزښتنونه او تجربې ټول هغه فکتورونه دي، چې په مرسته به یې د خپلو مراجعینو د اړتیاوو د تامین په برخه کې تر ې ګټه پورته کوو.

موږ له خپلو مراجعینو سره د مرستې له لارې کولای شو، تر څو دوی فوق العاده پرمختګ او وده تجربه کړي او له یو بل سره په ګډه داسې مشارکتونه رامنځته کوو، چې د ډېرو د ژوند پرمختګ او ودې ته لاره هواره کړي.

# د امریـکا انتخابات او پر افغانسـتان یـې د پایلـو اغېزې

## (د نظر خاوندانو او لیکوالانو تحلیلونه)

### لنډیز

افغانسـتان د وخـت او تاریـخ پـه یـوه حسـاس او خـاص پړاو کـې قرار لـري. د سـولې او جګـړې دوه بهیرونـه پـه یـو وخت کې فعـال دي او افغانان هـره ورځ د جګړو له امله ځاني او مـالي قرباني ورکوي.

د ۱۳۹۸ کال د کـب پـر ۱۰مـې، د طالبانـو او امریـکا تـر منځ د سـولې په اړه د خپلمنځـي موافقتنامې له لاسـلیک وروسـته داسـې انګیـرل کېده، چې افغانسـتان کې به د جګـړې شـدت راکـم شي او خلک به د آرامۍ سـاه واخلي.

لـه یـادې موافقتنامـې اووه میاشـتې وروسـته د افغانسـتان د سـولې او جګـړې برخلیـک، اوس د امریکا متحـده ایالاتـو ولسـمشریزو ټاکنـو او د هغه پـه پایلو پورې تړلی برېښـي. د جګـړې دواړه لـوري د روان کال د نومـبر درېیمـې تـه پـه تمه دي. افغان حکومـت د جوبایډن بریالیتوب غـواړي او طالبان د ډونالډ ترمـپ کامیابېدو ته هیلـه من دي.

وامـا د تحقیـق او نتایجـو اداري، پـه همـدې موخـه چې د امریـکا د ټاکنو نتایـج به د افغانسـتان په اړه د یـاد هېـواد پر سیاسـتونو او سـولې پروسـې څه اغېز ولري، یوه نظر پوښـتنه تـر سره کړه او پـه دې اړه یې پـه امریـکا کې د مېشـتو او افغانسـتان کې له یو شـمېر افغانانو وپوښـتل.

د شـنونکو بـاور دا دی، چـې د امریـکا د ټاکنـو پایلـې بـه د افغانسـتان پـه اړه د دغـه هېـواد پالیسـۍ او سیاسـت اغېزمـن نـه کـړي. ددوی پـه وینـا، ښـایي چـې د ټاکنـو پـه نتیجـه کـې د مشرتابـه بدلـون به د افغانسـتان د سـولې بهیـر لـږ ټکنـی کړي او له افغانسـتان نـه د امریکایي سرتېرو وتل به تـر هغو ممکن نـه وي، څـو چـې د امریـکا او طالبانـو تـر منځ د سـولې هوکړه بشـپړه عملي شـوي نـه وي.

دغـه راز نظـر ورکوونکـي دا هـم وایـي، چـې د بیـن الافغـاني موافقتنامـې لپـاره د تضمیـن پـه توګه، په افغانسـتان کـې د امریـکا او ناټـو ځواکونـو محـدود حضور مهم برېښـي.

## د نظر ورکوونکو نوملړ

- حفیظ الله غښتلی، مریلنډ
- داوود میره کی، شیکاګو
- شیرجان احمدزی، نبراسکا
- عبدالواحد تابع، پنسلوانیا
- فهیم صدیقی، سانفرانسیسکو-کلیفورنیا
- ګل مقصود ثابت، کلیفورنیا
- محمد اکرم خپلواک، د مصالحې عالي شورا مرستیال
- میرویس رحیمزی، ویرجینیا
- واحد فقیری، ویرجینیا



# حفیظ الله غښتلی، مریلنډ

د امریکا د متحدو ایالاتو د ۲۰۲۰ کال د نومبر ۳مې نېټې ټاکنې او پر افغانستان یې د پایلو اغېز- له دوو اړخونو ورته نظر کوم:

یو- د امریکا د متحدو ایالاتو تګلار او پالیسي، په دې معنی، د امریکا نظر، که هر څوک د ټاکنو په پایله کې بریالی کېږي.

دوه- د افغان حکومت دیپلوماتیکه پیاوړتیا – په ځانګړي ډول د بهرنیو چارو وزارت او بیا په واشنګټن کې افغان سفارت څومره تکړه دی، چې د افغانستان ملي ګټو په رڼا کې لابي وکړي، د افغانستان په اړه بد نظر یا بدګوماني په ښه بدل کړي .

دویمه برخه باید ډېره پیاوړې وي، ځکه دلته دریمه برخه هم راټوکېږي، هغه د پاکستان دیپلوماتیکې هڅې او لابي ده، چې څنګه د افغانستان ملي ګټې له پامه ورغورځول شي او افغانستان ته د پاکستان له عینکو وکتل شي. یعنې دا چې څنګه کېدای شي د افغانستان د ګاونډي هېواد د غوښتنو پر بنیاد د امریکا جوړېدونکي پالیسي له زیان څخه افغان خوندي کړل شي.

لومړۍ برخې ته د ځواب په لټه کې څه نورې پوښتنې هم رامخې ته کېږي، هغه داسې:

۱- د ډیموکراتانو او جمهوریت غوښتونکو ګوندونو پالیسي څه ده؟ یا په تېر کې یې پالیسي څه وه؟

۲- په امریکا کې د افغان بحران په اړه د ډیموکراتانو او جمهوریت غوښتونکو ګوندونو له لوري د کاندیداتور شخصي طرز تفکر څه دی؟

۳- هر کاندیداتور په ګوند کې دننه د ګوند د مشرانو نظرونو او مشورو ته څومره درناوی لري؟

د ټاکنو په منډو ترو کې ممکن کاندیداتور ډېر ژمنې او خبرې وکړي، خو کله چې بریالی شي، بیا واقعیتونو ته په کتو هغه نه شي عملي کولی. داسې هم ډېر پېښیږي، چې ان جمهور رئیس وي، ځینې خبرې وکړي، بیا یې نه شي عملي کولی .

د ټولو پوښتنو ځواب هغه وخت د افغانستان د ملي ګټو په محور مثبت تغیر موندلی شي، چې د افغانستان اسلامي جمهوریت په همدې بحث کې دویمې برخې ته جدي پاملرنه وکړي. که په افغانستان کې دننه اوسنی وضعیت دوام مومي، نو دې حالت ته په کتو د سعدي د یوه بیت په رڼا کې اټکل ممکن دی: ”خوش باش که آن سرا چنین خواهد بود- سالی که نکوست، از بهارش پیدا است .“

لــه امریــکا سره پــه روابطــو کــې د افغانســتان دیپلوماتیکــې هڅې کمــزورې دي. د افغانســتان د بهرنیــو چارو وزارت فعال نه ښــکاري او د هغســې فعالیتونــو څــرک یــې نــه لګــي، چې ګواښــونو او چلنجونــو تــه پــه اســانۍ ځــواب وویلی شي. همــدا ډول پــه متحــدو ایالاتونو کې د افغانســتان دپلوماتیــک ماموریت/ســفارت کمــزوری دی. په وروســتیو کــې په واشــنګټن ډې سي کــې د افغان ســفارت د ډېوال د رغونــې په اړه د فســاد اتهامونو د افغانســتان دپلوماتیــک حیثیت ته زیــان اړولی، له همــدې امله د ماموریت اوســني مــشران نه شي کــولای، چې د افغانســتان د ملي ګټو لپــاره له نورو سره پــه زړورتیا خــبره وکړي او د افغانســتان د ملي ګټو لپــاره لابي او بحثونــه وکړي.

کــه پــه وطــن کــې فســاد دوام مومي، پــه همغه اندازه افغــان دریځ بــې اهمیته کېــږي او بحرانونو ته لاره هــواروي. له دې ور هاخــوا افغان حکومت تــه دا معلومات نشــته، چــې اوس پــه امریکا کې څومــره افغانــان ژوند کــوي؟ دغه مېشــت افغانان پــه لابي او نظر ښــه کولــو کې څه کولــی شي؟ په دې اړه وزارت یــا ســفارت څه کړي؟ پــه کار خو دا وه، چــې لــه هېواد بهــر افغانانو لپــاره چې د بل هېواد تابعیت لري، ځانګړي کارتونه وېشــل شــوي وای. د دغــه کار له مخې بــه یوه معلومــاتي زېرمه جوړه کــړای شــوی وه، چې پــه ډېرو چــارو کې په کارېدلای شــوای. مثــلاً په امریکا کــې د ټاکنو پــر وخت څرنګــه کېدای شــوای، چــې افغانان له حکومــت سره د ښــو اړیکو او ملي ګټــو لپاره ترې کار اخیستی وای.

ډېــری افغان-امریکایــان د امریکا په سیاســت کې ښــکېل دي، په مختلفو برخو کــې ځانونه نوموي او د بېــلا بېلــو برخو ټاکنو پــه منډو تــروړو کې فعال دي. تجربــو ښــودلې ده، چې د بین الــدول اړیکیو د جوړولــو لپاره پرله پســې نه ســتړې کېدونکي او ډېــر کار ته اړتیا ده. پــه ځانګــړې ډول، چې په یو هېــواد کــې د دې لپاره اړتیــا ولري، چــې اړیکې جــوړې، پیــاوړې او د خپل هېواد مــلي ګټې پکې ښــه ترا خوندي کــړای شي، لکه افغانســتان.

نتیجــه دا چې افغــان حکومت تــه ډېره ســتړیا او هڅې پــه کار دي، چــې کــه ټاکنــې دېموکراتان (جوبایــډن او مرســتیاله یې کامالا هریــس) ګټي او یا هــم د دویم ځل لپــاره جمهوریت غوښــتونکي (ډونالــډ ټرمپ او د ده مرســتیال مایک پنس) ګټي، افغــان حکومت بایــد د افغانســتان د مــلي ګټو د ســاتنې لپاره ډېر فعال وي او هغســې تــګلار خپل کــړي، چې لــه زیانونو خونــدي وي. د ســاري په ډول، په امریــکا متحدو ایالاتونو کــې ډېری افغان-امریکایــي وګړي په داســې ځایونو کــې کار کوي، چې تــر پرېکــړو کوونکیو یــې غږ رســېږي، یوه ګونګه خبره روښــانه کولی شي، غلط خپاره شــوي معلومــات ســمولی شي. دوی بحثونــه کړای شي، اســتدلال کولی شي، چــې د پرېکــړو کوونکیو بد نظر په ښــه بد کړل. له بده شــامته له دې پوتانســیل هېڅ ګټــه نه اخېســتل کېږي.

زه پــه دې بــاور یم، تر هغــو چې افغان مســوولین په رښــتیني ډول د افغانســتان او افغانانــو لپاره کار و نه کړي، له فســاد څخــه لاس وانخلي، نــو دا هیله به بې ځایــه وي، چې د افغانســتان او افغــان په اړه د امریــکا د متحــدو ایالاتــو او یا په عمــوم ډول د نړیوالــو بــده تګلاره، پالیــسي او نظر ښــه شي. که فســاد دوام ومومي، رښــتینولي او صداقت نه وي، نو پر عکس ښــه بــه پر بــدو بدل شي.

# داوود میرکی، شیکاګو



د ټرمپ د لومړني کمپاین یوه مهمه موضوع د جګړو ختمول او د امریکې د سرتېرو بېرته راستنول وو. ټرمپ د خپل لومړي کمپاین په موده کې د افغانستان جګړه یوه بې ګټې او بې هدفه جګړه بللې وه، نو کله چې ولسمشر شو د افغانستان د جګړې د ختمیدو نیت یې وکړ.

زما په نظر که ټرمپ ټاکنې وګټي، نو دی به خپلې قواوې په بشپړه توګه وباسي او که جوبایډن ټاکنې وګټي، دده د ویناوو له مخې به نوموړی هم په بشپړه توګه خپلې قواوې وباسي، خو ډېر امکان لري، چې په هغه ټاکل شوې موده باندې یې ونه باسي، ځکه جوبایډن له ډېرو داخلي، سیمه ایزو او نړیوالو ستونزو سره مخ دی، چې امکان لري هغو ته لومړیتوب ورکړي- په ځانګړې توګه دا خبره هم مهمه ده، چې جوبایډن د امریکې د ایستابلیشمنټ سړی دی، مجبور دی، چې د هغوی هیلې هم په پام کې ونیسي.



# شيرجان احمدزی، نبراسکا

لومړی خو د افغانستان موضوع د امریکا د انتخاباتو په کمپاینونو کې په زغرده او واضح توګه هیڅ ذکر شوې نه ده. دویم باید ووایم، چې د افغانستان په هکله د دواړه کاندیدانو موقف ډېر فرق نه لري. دواړه غواړي د افغانستان جګړه ختمه کړي او خپل پوځیان په افغانستان کې یا کم او یا یې په بشپړ ډول راوباسي.

تر اوسه د ولسمشر ټرمپ دریځ دا دی، چې له افغانستان نه به خپل پوځیان راوباسي، خو باید ووایم، چې دا د نوموړي یوه سیاسي او انتخاباتي وعده وه، چې له خپلو پلویانو سره یې کړې وه. دارنګه ژمنې د امریکا بهرنۍ پالیسۍ نه بیانوي، ځکه په یادو پالیسیو کې نه یوازې د بهرنیو چارو وزارت، بلکې دفاع وزارت هم دخیل وي او د امریکا دفاع وزارت له افغانستان نه د بشپړو وتو مخالف دی.

دیموکرات کاندید جوبایډن هم همدغسې نظر لري. زه فکر نه کوم، چې امریکا به هڅه وکړي ژر په هره بیه له افغانستان نه خپل پوځیان راوباسي او دا به هم وغواړي، چې تضمین یې کړي، افغانستان کې د القاعدې غوندې ډلې بېرته ځای نه جوړوي او امریکا ته کوم ګواښ نه پېښوي، ددې کار تضمین ډېر سخت دی.

امریکا همدا وېره لري، چې کېدای شي افغانستان بیا د تروریستانو په ځاله بدل شي او د دوی د شلو کلونو مالي او ځاني قرباني په اوبو لاهو شي.

# عبدالواحد تابع، پنسلوانیا



زما نظر د امریکا د ټاکنو په اړه دا دی، که چېرې افغان سیاسیون وغواړي او لوبه وکولای شي، ددې امکانات شتون لري، چې په افغانستان کې د ننه او په سیمه کې دوی برلاسه واوسي، خو له بده مرغه دغه قوت او ډیالوګ په افغانانو، د افغانستان په سیاسیونو او ورسره وسله والو طالبانو کې شتون نه لري.

دوی تل د خپل واک د غزولو په خاطر د واک لپاره له خلکو نه قرباني اخلي او غواړي، چې په هر ډول وي، په واک کې پاتې شي. دوی نشي کولای د افغانستان د تمامیت ارضي، د خلکو د عزت او سوکالی او دا چې د یوه ملت په توګه په افغانستان کې پاتې شي، هغوی ته دې ودریږي.

که چېرې په رښتیني ډول افغان سیاسیون وغواړي، له زورورو قدرتونو او له واکدارانو څخه ډېر څه په لاس راوړلی شي او خپل ملت ښېرازۍ ته پرې رسولی شي. د بېلګې په ډول عربي هېوادونه لکه قطر، سعودي عربستان او عربو متحده امارات او کوېټ، چې پنځوس یا شپېته کلونه وړاندې یې هېڅ نه درلودل، خو د دوی د نفتي زېرمو له برکته او له لویدیځوالو سره د دوی راشه درشه او د هغوی مرستې، ددې لامل شوې چې خپل هېوادونه د سیالانو په کتار کې ودروي. دېته ورته افغانستان سرشاره زېرمې لري، خو له بده مرغه موږ داسې کس یا کسان نلرو، چې له دغه لوبې څخه د افغانستان په ګټه کار واخلي.

نو د امریکا د ټاکنو نتایج هر وخت د دوی د خپل هېواد د ګټو لپاره مهم دي. هېڅکله به دوی زموږ ګټې لومړۍ ونه بولي او داسې دریځ به خپل کړي، چې خپلې بهرنۍ پالیسۍ او سیاستونه یې غواړي.



# فهیم صدیقی، سانفرانسیسکو- کلیفورنیا

یکـــی از موضوعات که افکار عامـــه امریکا را درگیر خود کـــرده و در نتیجه انتخابـــات تاثیرگذار خواهد بود، جنگ افغانســـتان اســـت. مردم امریکا مخالف و خســـته از جنگ طولانی و حضور نیروهای شـــان در افغانستان هستند.

این مخالفـــت ناشـــی از تلفات انســـانی و مصارف هنگفـــت مالی اســـت، کـــه امریـــکا در افغانســـتان متقبل شـــده اســـت. البته بازتاب مســـأله افغانســـتان مثل ســـالهای قبل در رســـانه های امریکا نیســـت و علت اساســـی آن خروج بخشـــی بزرگـــی نیروهای آن کشـــور و کم شـــدن کمک هایش به افغانســـتان ا ست .

به عبـــارت دیگر، بـــا وجود که مســـأله افغانســـتان هنـــوزم بـــرای برخی ها مهم اســـت، ولی ایـــن افراد در اقلیـــت هســـتند. نامزدهـــای انتخابات ریاســـت جمهـــوری آمریـــکا، آقـــای جوبایـــدن و ترامپ با درک ایـــن واقعیت دنبـــال تشریح برنامه های شـــان در قبال افغانســـتان هســـتند.

آنان در تمام برنامه های کمپاینی شـــان از اســـتراتیژی شـــان در مورد افغانســـتان یـــاد می کننـــد، اما دیگر افغانســـتان در مـــتن برنامه هـــای نامزدان ریاســـت جمهوری امریکا نیســـت. این نشـــان میدهد جنگ و صلح افغانســـتان دیگر برای مردم و سیاســـت مداران آمریکا مهم ترین دغدغه نیســـت. بـــا وجود تفاوت دیـــدگاه هـــای رئیـــس جمهـــور ترامـــپ و رقیبش جوبایـــدن، اما در یک مـــورد اتفاق نظـــر دارند.

خـــروج از افغانســـتان به هـــر نحو ممکـــن، ترامپ برای ماندن در کاخ ســـفید شـــتاب بیـــش از تصور به صلح افغانســـتان داد و اکنـــون دارد از آن به عنوان یک دســـت آورد در برنامـــه کمپاینـــی اش یاد می کنـــد. او به مـــردم امریکا وعده خروج از افغانســـتان داده و بـــه قول وی" بـــه این جنگ بی معنـــا" پایان خواهد داد.

جوبایـــدن رقیب آقـــای ترامپ نیز نظر مشـــابه دارد. او چنـــدی قبل حـــرف جنجالی در قبال افغانســـتان به زبـــان آورد که بازتـــاب جهانی داشـــت، گفته بود که افغانســـتان به هیـــچ عنوان نمی توانـــد یک ملت باشـــد و پروژه ملـــت ســـازی در این کشـــور ناکام خواهد بود.

همچنـــان تاکیـــد کرده اســـت در صـــورت پیروزی تمـــام نظامیان کشـــورش را از افغانســـتان خارج می کند، زیـــرا به بـــاور وی نیـــازی به حضـــور نظامی امریـــکا در افغانســـتان نیســـت. او اما گفته اســـت افغانســـتان را فراموش نمـــی کنـــد و از دور مراقب خواهـــد بود تـــا منافع امریـــکا از خاک آن کشـــور تهدید نشـــود.

از برنامــه های هــر دو نامــزد نهایی معلوم اســت کــه آنان خواهــان خــروج از افغانســتان و سرعت بخشــیدن به رونــد صلح هســتند. آنــان میخواهند به هر نحــو ممکن توافــق بین طالبــان و حکومت افغانســتان صــورت بگیــرد. حتا اگــر بخش بزرگ طالبــان با ایــن توافق مخالف باشــند، امــا امریکا تــلاش میکنند با برخــی رهبران طالبــان و نیروهای تحت امر شــان موافقــت کند تا بهانــه برای خروج از افغانســتان داشــته باشــند. این موضوع شاید به کاهــش خشــونت کمک کنــد، ولی پایــان جنگ نخواهــد بود.

بــا در نظــر داشــت برنامه هــای دونالــد ترامپ و جوبایدن در قبال افغانســتان، برای مــا تفاوت ندارد کدام یک بــه پیروزی خواهد رســید. بــا این حال هر کــدام به کاخ ســفید بــرود، قطعاً نمــی توانند افغانســتان را فرامــوش کنــد. امریــکا منافع بزرگ در آســیا دارد که حضور در افغانســتان برای شــان مهم اســت. فراموش کــردن افغانســتان یعنی باخت ســنگین در برابر رقیــب های چون روســیه و چین. امــا قطعاً دیگــر مســأله افغانســتان بــرای امریکا مهمتریــن نخواهد بود.

اگــر وضعیت اینگونــه ادامه پیدا کند (بــدون اینکه فکــر کنیم چــه کســی پیروز میشــود) افغانســتان دیگــر در محــور برنامه هــای واشــنگتن نخواهد بــود و این خبری خوبی برای افغانســتان نیســت. از این رو مردم افغانســتان باید خــود را برای روزهای ســخت و دشــوار آماده کــرده و چاره بــرای آینده خــود کننــد. یعنی بــه احتــمال فــراوان امریکا نه افغانســتان را فرامــوش می کنــد و نــه دیگر مثل گذشــته حمایت همــه جانبه.

در چنیــن شرایط باید خوشــبین بــود و تلاش کرد پروســه صلح افغانســتان به سرانجام برســد. شــاید اینطوری شــاهد کاهش خشــونت باشــیم تا بتوانیم فرصتــی برای ملــت ســازی و دولت ســازی پیدا نماییــم. مردم و سیاســت مــداران افغانســتان باید این را بداننــد ویرانی و آبادانی این کشــور فقط در دســتان خود شــان هســتند و نباید منتظــر دیگران بو د.



# ګل مقصود

# ثابت، کليفورنيا

د تېرو څو کلونو پياوړو هڅو او د افغانستان حکومت له کمزوري عمل نه وروسته، پاکستان په دې وتوانېد، چې د افغانستان په اړه د واشنګټن نظر تغيير او له خپلو ګټو سره يې برابر کړي. همدا دليل دی، چې پاکستان له کوم مشکل پرته، پر ډيورنډ کرښه تأسيسات جوړ او د راپورونو پر بنياد مصارف يې هم امريکا ورکړل.

همدارنګه پاکستان وکولای شول، چې د سولې او مذاکراتو مېز ته د طالبانو د راوستو لپاره په ميلياردونو ډالر تر لاسه کړي. د سولې دا اوسنۍ پروسه هم له امريکا سره په همغږۍ د پاکستان په ګټه روانه ده.

د پاکستان او امريکا تفاهم او په نتيجه کې يې له طالبانو سره د سولې هوکړه، د افغانستان د اداره کولو لپاره ټول خنډونه له منځه وړي او د امريکا ګټې هم تضمينولی شي. اوس پاکستان د افغانستان په قضيه کې مرکزي رول اخيستی او د امريکا له انتخاباتو نه وروسته به هم پدې پاليسۍ کې تغير را نشي.

که څېری جوبايډن هم ګټونکی شي، نو د افغانستان پاليسي به همدارنګه وي، ځکه جوبايډن هم د پاکستان ډېر طرفدار دی او بل د افغانستان موضوع ورته د ډېرو نورو امريکايانو په شان خپل اهميت له لاسه ورکړی دی.

# محمد اکرم خپلواک، د مصالحې عالي شورا مرستیال



زما په نظر د امریکا متحده ایالاتو د انتخاباتو پایلې به د افغانستان په اړه ددغه هېواد پر سیاستونو او پالیسیو اغېز پرې نه باسي.

دغه راز اټکل دی، چې د افغانستان د سولې بهیر به پر بله لاره نشي، یوازې د ټکني کېدو امکان یې هغه وخت متصور دی، چې جوبایډن ټاکنې وګټي. دا ځنډ به بنایي دوې یا درې میاشتې وي او له هغه وروسته به بېرته عادي حالت ته ورګرځي، خو د دواړو هره یو کاندید په بریالي کېدو سره، له افغانستان نه د امریکایي ټولو سرتېرو ایستل، د امریکا او طالبانو د موافقتنامې له بشپړې عملي کېدو وړاندې ممکن نه بریښي.

د بین الافغاني موافقتنامې لپاره د تضمین په توګه، په افغانستان کې د امریکا او ناټو ځواکونو محدود حضور مهم بریښي. زه فکر کوم، چې په افغانستان کې د سولې په راتلو سره به د امریکایي سرتېرو حضور د نورو هېوادونو لکه کوېټ، سعودي عربستان، قطر، جرمني او جنوبي کوریا هېوادونو په څېر وي او له دارنګه حالت سره به د ترهګرو د هغو تهدیدونو له اړخه، چې افغانان، منطقه او نړیوال یې لري، څه اطمینان حاصل شي او تر هغو به افغاني قوتونه کاملاً چمتو شي.

همدا راز د راتلونکي حکومتولی په اړه ویل کېږي، چې دا ځل به ډېر په لوړه کچه په ادارو کې له هغو کدرونو استفاده وشي، کوم چې د افغاني ټولنې له بطن نه را پورته شوي وي او په افغاني دود او دستور پوره بلد وي، ځکه په تېرو دوو لسیزو کې معلومه شوه، چې د ظرفیتونو جوړېدل او بېرته فرار د افغان دولت او بهرنیانو پانګونې او هڅې په اوبو لاهو کړې دي.



# ميرويس رحيمزی، ويرجينيا

زه غواړم دری مشخص ټکي ذکر کړم:

لومړی: د امريکا متحده ايالاتو په انتخاباتو کې به افغانستان لويه موضوع نه وي. کېدای شي دواړه (د ټرمپ او جوبايډن) خواوي د عسکرو کمول او يو مهال وېش د عسکرو د مشروط خروج لپاره وړاندې کړي.

دوهم: ولسمشر ټرمپ به د سولې مذاکرات د يوې لاسته راوړنې په توګه ذکر کړي او مقابل لوری کېدای شي، سولې ته د رسېدو لپاره منطقوي حل او د پاکستان په نقش لږ ډېر تأکيد وکړي.

دريم: که هر يو کانديد د ټاکنو ګټونکی شي، کېدای شي د افغانستان په اړه موقف کې ډېر تغيير رانشي. که ټاکنې وګټي، کېدای شي د بايډن تيم خپل مرکچي ټيم وټاکي. د امريکې اکثر ولسمشرانو دوه دورې رياست کړی، نو د ولسمشر ټرمپ بيا ټاکل کېدل هم له امکانه لېرې خبره نه ده.

# واحد فقیری، ویرجنیا



د امریکا انتخابات او افغانستان

البته پدې کې هیڅ شک نسته، چې د امریکا داخلي سیاست او انتخابات د افغانستان پر عمومي اوضاع باندې ژور اثر لري. د دې خبرې اصلي علت دا دی، چې افغانستان یو اشغال سوی ملک دی او د متحده ایالاتو انتخابات د افغانستان سیاسي محاسبه بدلولای سي.

همدا اوس په امریکا کې د جمهوري ریاست لپاره انتخاباتي کمپین په خرپ او شدت روان دی.

ټرمپ:

که چېرې ټرمپ انتخابات وګټي، په اغلب ګومان به د افغانستان په مورد کې خپل نظر او پالیسي عملي کړي. په بل عبارت، د قطر موافقه به اجرا کړي او د بل کال (۲۰۲۱) د مې تر میاشتې پورې به خپل ګرده عسکر له افغانستانه راوباسي، خو په راتلونکو انتخاباتو کې د ټرمپ کامیابه کېدل په شک کې دي.

د امریکا د عامه افکارو سروې ښيي، چې ټرمپ به انتخابات بایلوي.

د ټرمپ په ناکامه کېدو کې کورونا ستر نقش لري. اقتصاد خراب دی، زیات امریکایان بېکاره دي او د شتمن او غریب تر مینځ تفاوت زیات سویدی. په امریکا کې اقتصادي بې عدالتي نخرې کوي. امریکا په خپل ټول تاریخ کې د نن په شان اقتصادي بې عدالتي نه وه تجربه کړې. د امریکایانو تر مینځ طبقاتي ټکر او بدبیني تر بل هر وخت زیات سویدی.

په سیاسي لحاظ امریکا کاملاً په اولیګارکي بدله سوېده. څو ثروتمنو امریکایانو د امریکا حکومت او اقتصاد انحصار کړیدی، څو ثروتمنو شرکتونو، د امریکا جنګي ماشین او مقتدرو افرادو د امریکا د سرشاره خزانې چور او تالا ته ملاوې تړلې دي او اداري فساد زیات سوی دی. د امریکا ګرده سیاسي او اقتصادي نظام خوسا او ظالمانه سویدی او د امریکا دیموکراسي او د قانون حاکمیت ریشخند سوی دی.

بلخوا، متحده ایالات په سیاسي او نژادي لحاظ په خطرناکه توګه قطبي سویدي. په ملک کې د مختلفو اقوامو تر مینځ ژورې کندې ایجادې سویدي. د امریکا په ګوټ ګوټ کې د پولیسو د تشدد او خشونت پر ضد روانو څو میاشتنیو ولسي اعتراضونو دا وښووده، چې خلک سخت ناراضه دي. د امریکا په تاریخ کې پدې شدت او پراخوالي مدني اعتراضونه نه ول سوي.

په هر حـــال، که چېـــرې ټرمـــپ انتخابـــات بايلوي، د افغانســـتان جنجـــال بـــه جو بايـــډن ته پـــه ميراث پرېږدي. جوبايـــډن به د امريکا دريېـــم جمهورريس وي، چې د افغانســـتان کشـــاله ورته په ميراث رسېږي.

جوبايډن:

البتـــه که چېرې جوبايـــډن انتخابات وګټـــي، هغه به د بل کال د مې تر مياشـــتې پورې وخـــت ولري، چې د افغانســـتان په بـــاب فيصله وکړي. په بـــل عبارت، هغه بـــه قريب څلور مياشـــتې وخت ولري.

څرګنـــده خـــبره ده، چـــې جو بايـــډن به پـــه لومړيو مياشـــتو کې د خپلې کابينې په جوړولـــو بوخت وي. دغـــه راز، هغـــه به په لومړيـــو ورځو کې لـــه اروپايي اتحـــاد سره خپل روابط ســـم کړي. د ايـــران ذره وي موافقـــه به بېرتـــه راژوندۍ کړي. سمدســـتي به امريکا بېرته د پاريس موافقـــې (چاپېريال او محيطي موافقې) ته متعهـــده کړي.

تر ټولـــو مهمـــه دا چې جو بايـــډن به هڅـــه وکړي، چې د امريکا اقتصاد بېرته ســـمبال کـــړي. د بېکارانو کچـــه راکمه کـــړي. د ثروتمـــن او غريب تـــر مينځ تاريخـــي تفـــاوت او بـــې عدالتي څه ماســـت مالي کـــړي. د اقتصادي بـــې عدالتۍ د راکمولـــو لپاره څه نمايـــشي اقدامـــات وکړي او پـــه بهر کـــې د امريکا جنګـــړه او خشـــنه نظامي ګـــرا څېره څـــه نرمه کړي.

په هيواد کـــې دننه روان زياتېدونکي نژادي تشـــنج او تصـــادم څه راکم کـــړي، د امريکايـــي اقوامو تر مينځ موجـــوده پراخ درزونه څـــه ترميم کـــړي او بالاخره د امريکا لـــه لا زيات قطبي کېـــدو مخه ونيسي.

جوبايډن او افغانستان:

د افغانســـتان په اړه د جو بايډن نظريـــات تر ډېره حده معلوم دي. کلـــه چې د جمهور رئيس اوباما مرســـتيال ؤ، جو بايډن افغانســـتانه ته د زياتو عســـکرو د استولو مخالف ؤ.

د ســـبړ کال د جمهوري رياســـت د مناظـــرو په جريان کې جـــو بايـــډن وويل: افغانســـتان يو ملـــت نه دی، افغانســـتان څو ټوټې دی او افغانســـتان به هېڅکله هم يو ملـــت نه سي.

په مجمـــوع کې جـــو بايـــډن د افغانســـتان د جنګ مخالف دی. يو ځل يې د ســـپيني ماڼۍ په مجلســـونو کې پـــه قهر ويـــلي ول، چـــې هېڅکله بـــه هم خپل زوی د افغانســـتان عبـــث جنګ ته وا نه ســـتوي.

يو کـــرت يې حامـــد کرزي تـــه مخامخ ويـــلي ول: صاحبـــه، که تاســـې ربښـــتيا د امريکايي عســـکرو له موجوديته په عذاب ياســـت، لطفاً پـــه عام محضر کې وواياســـت، چې امريکايان دې له افغانســـتانه ووځي.

البتـــه دا هـــم بايـــد زياتـــه کړم، چـــې جـــو بايډن د امريکا د ســـياسي استبليشـــمنټ او حاکمې طبقې يو پخواني او وفاداره سياســـتوال دی. د امريکا ســـياسي استبليشـــمنټ په کُل کې نظامي ګرا، خشـــن، جنګ طلبه او بـــې رحمه دی.

نتيجه:

زمـــا عقيـــده دا ده، چې کـــه چېرې ټرمـــپ انتخابات وګټي، هغـــه بـــه د قطر موافقـــه عملي کـــړي، خپل عســـکر به لـــه افغانســـتانه راوبـــاسي او د افغانســـتان ظالمانه اشـــغال او بـــې پايانه او نابرابـــر جنګ به ختم کړي .

او که چېرې جو بايـــډن انتخابات وګټـــي، هغه به هم له افغانســـتانه امريکايي عســـکر راوباسي، خو ښـــايي څه ځنډ پکـــې وکړي، ځکه د جو بايـــډن لومړيتوبونه بـــه د اقتصاد ســـمول، له اروپا سره د امريـــکا د روابطو ښـــه کول، د ايران ذره وي موافقـــه بېرته راژوندۍ کول او بالاخره له افغانســـتانه د خپلو عسکرو را ايستل وي.

دا هـــم ممکنه ده، چـــې جوبايډن به ښـــايي د خليلزاد پر ځای کـــوم بل څوک مقـــرر کړي.

اړیکې

واما تحقیقاتو او نتایجو اداره


waamaa.org@gmail.com
+۹۳-۷۹۲-۱۱-۲۲۳۳

**واما (مرکزی دفتر) - کابل**

ک ۴، س ۱، دوهمه حصه، کارته پروان
کابل - افغانستان